درین کتاب تفصیل هفتصدوشصت نسخه ادویه طبي هم موجوداست . دراروپاطي سي سال اخیرقرن پانزده سي مرتبه این کتاب بچاپ رسیده است ، یکي ازدانشمندان غرب اظهارمیداردکه هیچ کتاب طب به پیمانه القانون مطالعه نمي شود.

به همین ترتیب براي اولین بارمسلمانان شفاخانه تاسیس کردند وآن راررواج دادند.چنانچه درعهدخلافت عباسي هابیش ازسي وچهارشفاخانه تاسیس گردیده بود.

درقرن یازدهم شفاخانه هاي سیارهم درممالك اسلامي به پیمانه وسیع رواج یافته بود. درشفاخانه هاي بزرگ کتاب خانه هاي ازکتب ومواد طبي هم وجودداشت همچنان درین شفاخانه هابراي تربیه وتعلیم داکتران هم اهتمام مي شد، داکتران ثبت نام مي شدندوازآن هاامتحان گرفته مي شد، به همین ترتیب درساحه نظامي هم داکتران طبي تربیه مي شدچنانچه سلطان محمودسلجوقي براي اولین باریك گروه داکتران نظامي درست کرد. دردنیاي اسلام جراحي هم انکشاف کرده بود، چنانچه زهراوي بزرگترین جراح عالم اسلام محسوب مي شد. کتاب اوبنام « التصریف » که داراي سي باب است ودرآن تصویرونقشه سامان آلات جراحي هم جاداده شده اکنون هم دراروپا طرف قبول عام است.

همچنان ریاضي ازعلوم مخصوص عرب هابشمارمیرفت وهم علم الجبرومثلثات راآنهااساس گذاري کردند . کشف وایجاد صفروکاربردآن درریاضي ازکارنامه هاي مسلمانان عربي بشمارمیرودکه دردنیاي حساب یك انقلاب برپا کردوآن رانهایت سهل ،آسان ومفیدگردانید .

«کاري دي ووه دراثرش بنام" Legacy of Islam" اظهارمیداردکه « عرب ها ساینس را ترقي بي مثالي دادند آنهاصفررا ایجاد کرده به انسان هاآموختندوبه این ترتیب موجد حساب گردیدند.

به همین ترتیب آنهاالجبررا ترقي داده بدرجه یك علم مسلم رسانیدند وموجد مثلثات هم آنهامي باشندکه قبل ازآن یونانیان راجع به آن نمي دانستند . »

این بحث خیلي طویل است که نمي توان درین مختصر آن راجادادمافقط بطورنمونه به بخشي ازخدمات مسلمانان درعرصه هاي مختلف ازعلوم وفنون ساینسي اشاره نمودیم.

فکري ښکیلاک

ژباړه اوتلخیز: مجیب الله "محمدپور"

استادمحمدقطب دخپل کتاب «واقعناالمعاصر» په ۱۹۵مخ کي دفکري ښکیلاك تعریف په لاندي ټکوکي وراندي کړي اووایي چي: " دفکري ښکیلاك نه هغه غیرپوځي وسائل مراددي چي صلیبي ښکیلاکګرونه داسلامي ژوندمظاهرودله مینځه وړلولپاره کاراخلي اوددغه ښکیلاك پواسطه مسلمانان په عقیدوي،فکري،تقلیدي اوسلوکي «اخلاقي» لحاظ سره داسلام دمقدس دین نه اړول غواړي ".

فکري ښکیلاك هغه نوي اسلوب اوکرنلاره ده چي صلیبیانودمسلمانانو دراښکیلولولپاره هغه وخت غوره کړه چي په وسله والرنښتواوجګړوکي مسلمانانوورته په پرله پسي ډول لغاش ماتوونکي ګوزارونه ورکړل. نوځکه صلیبیانودخپلوماتوورووسته دمسلمانانوسره دجګړي اومخامخ مقابلي لاره پریښوده اوددي په بدل کي ئي دمسلمانانوپه ضدبله کرنلاره «دفکري مقابلي لاره » خپله کړه.

استادمحمدقطب وائي چي: دغه انګیزناك اسلوب دلومړي ځل لپاره دفرانسي دپادشاه نهم لوئي له خواپه ډاګه اعلان شو. کله چي دي دمسلمانانوله خواديوبندي په حیث دمصریه منصوره کي په جیل کي پروت و، دزیات فکروروسته هغه دمسلمانانو په ضدپوځي کرنلاري په اړه دي نتیجي ته ورسیدچي دابالکل ممکن نده چي مسلمانانوته په پوځي وګروتوکي ماتي ورکړل شي نولازمه بي وګڼله چي دمسلمانانودعقیدي، افکارو اوتفالیدو په خلاف یوه پراخه اولویه جګړه پیل شي، ترکله چي هغه دځه ماذي بدلي په عوض کي آزادشواوبیاپاریس ته لاړنوخپل قوم ته ئي وویل :« که غواړي چي پرمسلمانانو بری لاسی شي نوبوازي وسله واله جګړه مه ورسره کوي ځکه په وسله واله جګړه کي ئي ځوځله ماتي درکړي بلکه دهغوي دعقایدواوافکاروپه خلاف مبارزه وکړي ځکه چي عقیدې اوفکرددوی دقوت منبع اوسرچینه ده » .

دفکري ښکیلاك دتاریخ اوپیداینښت په اړه دیادولووړده له کومه ځایه چي حق ښکاره اوغالب شوي وي نوحامیان اوانصارپه هم خامخا لري اوپه مقابل کي به ئي ګوري چي باطل اوهغه انصارواوحامیانوهم سنګرنیولي وي، حتي دآدم علیه السلام نه تردي دمه پوري، قرآن کریم دآدم علیه السلام اودابلیس په کیسه کي دابلیس تظاهرښیي کله چي لعین ابلیس دآدم علیه السلام په وړاندي دخپل محبت اواخلاص مظاهره کوي اوسوګندونه کوي چي زه ستاسوخیرخواه ناصح یم دامکردااعراف دسورت په (۲۱) آیت کي راغلي دي چي داپخپله دفکري خبیث ښکیلاك بیوډول وچي اسالیب اوکرنلاري ئي مخفي اوپټې دي خونتائج ئي لزوروسته ښه څرګندشول.

همدارنګه درسول الله صلي الله علیه وسلم په امت کي هم دارنګه پیښي دهغه (ص) دصحابه ؤسره واقع شوي خوددینګ ایمان په خاوندانوئي څه اثرندي کړي راځې په ګډه سره دحضرت کعب بن مالك کیسه ولولو.

نوموړي دهغه دریوصحابه ؤ له ډلي څخه وچي دتبوك له غزاته ئي تخلف کړي و اودتوبي قبلیدل ئي لزوځنډیدل آن تردي چي داپراخه ځمکه ورباندي خوراتنګه شوه، دغسان پاچاورته یولیك ورواستاوه چي په هغه کي ئي دغسان په لوري دده دورتګ دبلني سره سره داحترام اوعزت، چوګي اودبدبي غولوونکي پیشکشونه هم لیکلي وو. خپله کعب بن مالك وائي چي:

« زه دمدیني منوري په بازګي روان وم چي یوسړي له خلکونه پوښتني کولي چي څوك به کعب بن مالك ماته راوښیي ،خلکوروښودلم هغه زمالوري ته راغي ماته ئي دغسان پاچالیك وسپاره چي ورکي لیکل شوي وو:" زه خبرشوي یم چي ستاملګري (رسول الله صلي الله علیه وسلم) درسره جفاکړیده ، له تکلیف اوسرګرداني نه ځان وژغوره که زموږڅنګ ته راشي دل آسایته به دي وکړو » وائي چي کله مي لیك ولوست نوومي ویل چي دابله آزموینه ده نوځکه مي لیك داورپه لمبوله کړ.

نوموړي کیسه په تفصیلي ډول ددغه السیره په کتاب کي چي دامام محمدغزالي تالیف دي ٤٤٣ - ٤٤٧ مخونوکي لوستلاي شی.

دارنګه ډیري کیسي اوپیښي نوري هم شته خودلاډون له مخي په همدي بسیاکیږوداتولي کیسي په داګه کوي چي مسلمانان داسلامي دعوت اوپلني دلومړیوشیبونه ددغه ناولي ښکیلاك دمختلفوډولونوسره وخت ناوخته لاس اوګریوان وو. خوکله چي دمسلمانانوکلك ایمان، ثابت یقین اودزړه له تله توجه دالله لوري ته وه او په زړونوکي یې دنصیحت دقبلیدومتره اوشومه وه داټول پلانونه پخپله شنډیدل خوپه ورووستیوکي چي کله مسلمانان کمزوري شوله دنیاته ئي مخه کړه، دعزت تګلاري (جهاد)ئي پریښوده، مبارزه ولیه شول نوداخبیث ښکیلاك وتوانیدچي خپل مرام ترڅه حده ترګوتوکړي. لنده داچي دفکري ښکیلاك تاریخ داسلامي دعوت اوبلني دکیچ اومیچ په پیمانه اواندازه اوږدوالي لري خوهیڅ شي ئي هم ترنولسمي پیړي ندي ترلاسه کړي بوازي په نولسمه پیړي کي دغه ښکیلاك څه ناڅه په شوموا‌هدافوکي بریالي شواوبوځه ئي ترلاسه کړل.

خونوموړي (فکري ښکیلاك) تربوځي ښکیلاك ډیرخطرناك دي ځکه چي پرځي ښکیلاك ټولوته ځرګنداوبرالاوي عالم اوجاهل وړباندي پوهیږي نوځکه لوي اوواړه ئي مقابلي ته ملاتړلي په ډګرریزي خپل وطن اوخپل ولس وژغوړلي ورته خپلواك کول غواړي چي کیداي شي په ډیره آساني سره خپل مرام (خپلواکي) ترلاسه کړي. مګرفکري ښکیلاك هرڅوك نشي محسوسولاي ،تاثیرئي ډیرژوراوعواقب ئي ډیروخیم اوخطرناك وي .

فکري ښکیلاك دپوځي ښکیلاك څخه ځکه ډیرناولي اوخطرناك دي چي ځکه نه بلکه عقل لاندي کول غواړي، بوازي پوځ ئي دحملي اوبرغل لاندي نه راځي بلکي په ولسونوتاراکونه کوي ځاي په بدل کي په فرهنګ برلاسي غواړي، دستګریه عوض کي دشخصیت ښکیلول غواړي، دغه زهریه بوکوهي کي نه بلکي په ټولو ملکونواوفکرونوباندي وژونکي اثرات تیتوي، برازي وسائل نه بلکه عقیده، فکراوثقافت ټول له مینځه وړي نوځکه خوبایدپه کلك ټینګاراومقاومت ، پوره زغم اوصبر،لوړاو اوچت پلان اومتین عزم اواراداي اودقیق نظم اودسپلین سره ئي ټول مسلمانان مقابلي ته دهمت اوغیرت ملي راپاڅوهي، دهغوي شوم اوپلیدغرضونه بربندکړي ، په خپل رب باندي په توکل، دخپل مقدس دین نه ددفاع اودخپل راتلونکي نسل دبچ کیدوپه هیله خپل هانداوزیارلاتوندکړي لیري نده چي ددغه خبیث مکروب جرړي له بیخه راووزي. وماذلك علي الله بعزیز

داووس اوس چي ټولي کفري ټري زمرزداسلامي انقلاب په ضدګوتبلیغاتي دریح خپل کړي ددغه ښکیلاك له شوموا‌هدافونه ښه پرده اوچتوي .

داهم بشردوستی شوه

ژباړه : ع ظفر

دپاکستان جنګ راولپنډي ورځپاڼي په ۱۹۹٤ کال دفبروري په شلمه ګڼه کي د"چوري اورسینه زوري " ترسرلیك لاندي مي د مولانا محمد تقي عثماني صاحب مضمون ترسترګو شو، په دغه مضمون کي دغربي نړي هغه حماقت اوښرودښمني ته ترا په ډاګه کیږي چي دبشردوستي اوانساني عاطفي په نامه یې له ټولني سره لري نوله همدي امله تربورتني سرلیك لاندي خپورشوي مضمون ژباړه دشهادت لوستونکو لپاره خپروو.

څو ورځي پخوایه یوه محفل کي دغه پوښتنه دبحث اصلي موضوع وه چي مجرمانو ته دسختي اوعبرتناکي سزاورکول ترکومه حده دانساني عظمت سره مطابقت لري ؟ په ځیني لویدیزیو هیوادونو کي خودمرګ سزا په بشپړه توګه ختمه شویده لهذادځینو بناغلیو په خیال خر همدغه طریقه ډیره مناسبه ده .پرهمدي اړه ماته دځلورکالو مخکي یوه واقعه رایاده شوه چي که ماپخپلو سترګو په یو معتبر اخبارکي دموثقو اسنادو سره نه واي لیدلي نو پرهغه باندي به یقین کول راته ګران و.

دا د ۱۹۸۹ کال داکتوبرد میاشتي خبره ده،زه هغه وخت دامریکااوکاناډا په سفرتللي وم له تورنټوڅخه نیویارك ته روان وم ،په الوتکه کي دکاناډا یوه مشهور اونیز اخبار "نیشنل " لاس ته راغي ، چي په تنده یې داجمله لیك وه .

"دوشمالي امریکاترټولو نه زیاته چاپیدونکي اونیزه ده " داد ۱۹۸۹ داکتوبردلومړي خیرونه وه ،چي په پنځوسم مخ کي یې یوخبرهغتوسرلیکونواوتصویرونو سره خپورشوي و. دخبرلنډیز پدي ډول دي چي دکاناډا په برتش کولمبیا سیمه دکلفرډ اولسن په نامه یوبدنامه مجرم دقتل ، په زور زنا اولواطت په تورنیول شوي . دغه سړي مراهق هلکان اونجوني به یې دکاراوروزګار پیداکولو په بهانه له خپل ځان سره بیول له نشه اي موادودخورلو اووروسره د جنسي عمل ترسره کولو وروسته به یې وژل اوجسدونه به یې په لیري لیري ځایونوکي خښول له نیولو وروسته دغه سړي پدي اعتراف کړي چي هغه له یوولسو مراهقو هلکانو اونجونو سره له جنسي بدعملي وروسته هغوي وژلي دي اوجسدونه یې په مختلفو ځایوکي خښ کړي قتلونه یې په داسي وحشت ترسره کړي چي دیوه هلك دجسد له پیداکیدو وروسته معلومه شوه چي په سرکي یې داوسپني میخونه ټکوهل شوي .

پولیسو له مجرم څخه وغوښتل چي دهغویوولسو ماشومانو جسدونه چي دده دوحشت ښکه شوي دي ،دوي ته ورویښيي ،دغه ظالم چي ددې غوښتني کوم ځواب ورکړي ،ښايي چي له دي محکمي دچاپه خوب اوخیال کي هم نه وي تیر شوي. هغه ویل "ماته هغه ټول ځایونه په یاد دي چي ماشومان مي پکي خښ کړي ، خوددي ځایونو پته مفته او وړیا نه شم ښودلاي ،که چیري ماته دیوجسد په مقابل کي لس زره دالرراکوي نو بیایي دربنودلاي شم " دیو مجرم له خوا داریکاردغوښتنه چي هرڅه وه ،خوپه زړه پوري داده چي پولیسو هم دامطالبه منظور کړه .اخبار لیکي هیڅ داسي قانون نه وچي مجرم دجسدونو په پیداکولو مجبور کړي شي .

له همدي امله پولیسو دهغه په وړاندي وسله په ځمکه کیښوده ،البته پولیسو چي مجرم ته له زیاتي خوشامدي ،عذراوزاري وروسته له هغه څخه کوم رعایت ترلاسه کړ داوه چي " که چیري پولیس دلسوجسدونوپه مقابل کي یولك دالر عوض راکړي نو زه به پوولسم جسد مفت هغوي ته وښیم "

پولیسو له دغه رعایت نه په استفادي "اولسن " ته یولك دالرمعاوضه ورکړه ،له هغه وروسته دکاناډا دمختلفو ښارونو څخه جسدونه پولیسو ته حواله شول ، ددغه یوولسوماشومانو عکسونه هم په اخبارکي چاپ شوي ،چي له هغو څخه دماشومانو عمرونه له ۱۲ تر ۱۸ کلونو پوري معلومیږي .

ددغه "تفتیش " "اعتراف " اودیولك دالروګټوري سوداوروسته مجرم محاکمه شو. څرنګه چي په کاناډاکي دمرګ سزا(اعدام)وحشیانه عمل بلل کیږي نو ختمه شوي ده نوځکه محکمي "کلفرداولسن " ته زیاتونه زیاته دعمري قیدسزا ورکولاي شواي .البته محکمي دجرم دسختوالي په اعتراف سره دا"سفارش " هم کړي چي دامجرم به کله هم په عفوکي نه خوشي کیږي .اخباردسفارش لفظ استعمال کړي ،اوداسي نړي څرګندیږي چي له محکمي سره دداسي حکم اختیار نه ویلکي یوازي ګذارش یې کولاي شو.

ددغه یوولسو ماشومانو بیوزلو پلرونو اومیندوته چي دا معلومه شوه چي یوډرنده دهغوي داولاد وتو عزت لوټ کړي اوهغوي وژلي دي اوبیامجرم ته یولك دالره معاوضه هم وړکول شوي نو په فطري ډول هغوي کي داضطرار او غصي څپي راپورته شوي .

نوپراولسن یې دخساري دجبرانولو دعوه وکړه .هغوي غوښتنه کړي وه چي لرترلږه دکاناډا دټیکس ورکوونکوهغه یولك دالرچي ددغه وحشي مجرم جیب ته وراچول شوي ، له دغه مجرم څخه واخلي اودماشومانو ورثې ته یې ورکړي .خو هغوي په دغه دعوه کي شکست وخوړاو مرافعي محکمي هم ددوي دعوه ختمه کړه اوستره محکمه ددي دعوي له اوریدو څخه انکاروکړ. له بل طرفه مجرم له مرافعي څخه دیو غوښتنلیك په ترڅ کي داغوښتنه وکړه چي په زندان کي ورته اسانتیا وي برابري کړي شي .

داغوښتن لیك داوریدو لپاره منظورهم شو هغوخلکو چي ماشومان یې دوحشت ښکه ګرځیدلي وو ، دددغه وضعیت په نتیجه کي د"Victims of violence" د" تشددځپلي " په نامه یو انجمن جوړکړ. دغه انجمن دپارلمان له غړو څخه وغوښتل چي په کاناداکي د"اعدام" جزا بیرته په حال کړي. دانجمن یوغړي له اخبارسره په مرکه کي څرګنده کړي چي " موږ خپله ماتي نه ده منلي ،موږیوګروپ جوړکړي ،موږدکاناداله پارلمان څخه غوښتنه کړي چي کاناداته دمرګ سزا(اعدام) بیرته راوړي .

اوداولسن په شان جنسي درندګان سیده جهنم ته ولیږي ،هلته چي دي یې واقعاً مستحق دي " په دغه واقعه باندي تفصیلي تبصري ته ضرورت نشته ،خو کله چي انسان دمستلي په بوارخ باندي ډیر زوروا چوي او دیوارخې ښکارشي نودغه ډول لطیفي راپیداکیداي شي ،دانسان عظمت په خپل ځاي ،خوکوم چا چي دانسان دعظمت پرده پخپله څیرلي اوغورځولي وي نو دهغه مضروجود ته به په ټولنه کي ترکومه د شیطانیت دخوړولو اجازه ورکړه شي ؟

اوترکومه به په سلګونو حقیقي انساني عظمتونه دهغه دیوبنو (پدیویه) خواهشاتو قرباني کیږي.

زړه سوي دیرښه صفت دي ، خو دهر صفت اظهار ځانته محل اوموقع لري ، که چیري دغه صفت بي ځایه استعمال کړي شي نو نتیجه یې په یونه بوشکل باندي ظلم راوځي لکه څنګه چي پرماراولړم باندي دترحم مقصد پر هغومعصومو ځانونو باندي ظلم دي چي مارخوړلي اویا یې خوري . همدارنګ دموذي افرادو سره دسخت چلند مطلب دهغوي ګناه خلکو دانساني عظمت تحفظ دي چي دظلم ښکارشوي . دکلفر داولسن ذکرشوي پیښه ولولي اودقرآن عظیم الشان په دغه بلیغ ارشاد غوروکړي اي دعقل خاوندانو تاسي ته دقصاص (په قانون) کي ژوند دي.

حمایت مسعود...

این همه زمینه سازي براي نظام دیموکراسي غربي خواهد بودومي شودکه سفراخبرنمایندة سازمان ملل نیزدرجهت نتیجه گیري ازوضع درافغانستان باشدکه تاچه حدامکان اعاده نظام دیموکراسي غربي درافغانستان موجوداست ولي ان شاء الله که صدفیصد نتیجه گرفته است که درافغانستان تاآنگاه که مجاهدین وجرد داردتحقق این رویاهاعملي نخواهدبودورنه آمدن بدون طرح وفارمولي چه معني ئي دارد .

په ناصرباغ کي یوتن ووژل شو

دشهادت خبریال دناصر باغ څخه خبرراکوي .

چي تیره ورځ دناصرباغ په پنځم غبر کمپ کښي یوتن مهاجر دخانبیګ په مهمان خانې کښي ووژل شو.

په خبرکښي راغلي خان بیګ چي دناصرباغ پنځم غبرکمپ کي استوګنه لري دده کورته یوتن میلمه (قلندر) دکابل څخه پدي ورځو کښي راغلي ؤ، خوتیره شپه نامعلومو وسله والو دغه میلمه دخان بیګ په مهانخانه کښي ووژه اوددوي دشپې ترورمیږڅخه په استفادي ځانونه دپیښي له ځایه ویستلي په خبر کي زیاته شوي دقلندر نژدي خپلوان وایي چي قلندردچاسره شخصي دښمني نه درلوده اودي پدي ورځوکښي له کابل نه دلته میلمه راغلي و.

ایران دپاکستان له ذروي پروګرام څخه خپل ملاتړ څرګند کړ

اسلام آباد .

دپاکستان په پارلمان کښي دایران دپارلمان رئیس (ناطق نوري)

وویل : موږ دپاکستان له ذروي پروګرام څخه ملاتړکوو.

هغه زیاته کړه لویدیځ هیوادونه دپاکستان دذروي پروګرام دبندلو په غرض پدي خاطر زیات فشار راوړي چي غواړي اسلامي هیوادونه ځانته محتاج اواروساتي

دتاجکستان دبهرنیوچاروو‌دوزیرپرکوربریدوشو

دتاجکستان مامورین وایي چي څو وسله والو سړو ورمه ورځ دتاجکستان دباندینو چارو دوزیر پرکورباندي بري وکړي ، مګر څوك ژوبل شوي نه دي.

ددي حملي په وخت کښي خپله دباندینو چارووزیر په مسکو کښي و.

ملفوظي

مینه

محمدحلیم فدائي

* مینه دسړي لپاره یوه مشغله اودبنځي لپاره ژوند دي .
* صرف د"آه"کلمه دمینې دجذباتو داظهاورلوترجمانه ده .
* عقل له ناامیدي سره مخ کیږي ولي دمینې په دنیا کښي ناامیدي ناممکنه ده .
* ښځه چاسره مینه نه کوي ،چي کله مینه کوي نوخپل هر څه ورڅخه قربانوي .
* بې مینې ژوند بیهوده اوعبث دي.
* دانسانیت دوهم نوم مینه ده .
* زمالوري ! ته له هغه چاسره واده مه کوه چي ته ورسره مینه لري بلکه له هغه چاسره واده وکړه چي له تاسره مینه کوي .
* که ته غواړي چي دوسره مینه وکړاي شي نو ددي لپاره رمبي ته محبت وکړه .
* د"انا" یعني "زه " کلمه همیشه مینه غوځوي .
* دغره په څوکه دمینې تهداب مه پږده ځکه چي لوردي.
* په مینه کښي چي رازخوندي نه وي ، دهغي ټولي خوشحالي ختمیږي .
* انسان فنا لري خومینه نه ، ستاپه خیال مرګ دمحبت پاي دي .
* مینه دژوند تکمیل نه ، دهغي کروه وره دي.
* ددنیا مینه دهري بدي ریښه ده.
* مینه تنهایي (یوازي والي) له مینځه دوي .
* دټولو نه پاکه مینه هغه ده چي احسان پکښي ښکاره نه وي .
* مینه هغه جذبه ده چي په سترګو، نه یوازي دروح په واسطه محسوس کیداي شي .
* مینه دسړي دژوند یوه پیښه ده ،دښځي دژوند مکمل داستان دي .
* له مرګ سره مینه کوه نو ژوند به درپه برخه شي .
* په دنیاکښي ریښتیني مینه صرف دالله تعالي سره کوي نوبقیناً چي راحت اوسکون به دي په برخه شي.
* دیني تعلق له جذباتو اواحساساتو سره وي ، چي پایښت نه لري .
* ژوند بوګل دي اومینه دهغې خوشبویي ده.
* مینه دزړه سترګي خلاصوي .
* مینه یو داسي شي دي چي خریدار(اخستونکي) ته ضرورت نلري ځکه چي داپخپله دخلکو په زړونوکښي دځان لپاره کورجوړوي .
* دمینې یوه میوه دسل کاله یې مینې ژوند څخه غوره ده .
* دچاسره چي مینه کیږي دهغي په وړاندي دپښیماني څرګند ونه نه کیږي
* دمینې یواندازوي اوهغه خپل اندازخپله پیداکوي.
* دمینې معقول نرخ هغه دي چي له خپل قوت څخه بهر وي .
* مینه په ژوند کښي یو ځل راځي اوصحیح ژوندښیي .
* د زره (۱۰۰۰) سترګي وي خو دخپل معشوق اومحبوب عیب نشي کتلاي.
* مینه رنده وي .
* دمینې یوعمده اړخ دادي چي انسان له فکرکولو سره عادت کوي .
* په ذهانت (ذکاوت) باندي دسوچ (تصور)دلتحي نوم مینه ده .
* دانسانیت معراج مینه ده .
* مینه یوه فطري جذبه ده چي درنګ اونسل په قیدکښي نشي راتلاي . داجذبه په ابي سمندرونو اودشنو اسمانونو په فضاکښي دالوتونکو کو تروغوندي معصومه ده.
* مینه یوه خداي ورکړه ده ، هر انسان دامحسوسوي مګر په شدت سره نه .
* مینه ددوو طلبګاروپه مینځ کښي پرده ده .
* مینه اوښك په یوزړه کښي نه جمع کیږي .
* دژوند اساس مینه وګرځوه نه قهر اوغصه.
* ددنیا تولي خزانې که راټولي کړي دمینې قیمت نشي پوره کولاي.
* مینه په انسان کښي دیوبت اوشریف احساس نوم دي که دا نه وي نو بیادي انسان اوحیوان ترمینځ فرق نشته .
* څنګه چي ددنیادلاسته راوړلولپاره یې شمیره شیانو ته ضرورت وي په همدي شکل دمینې دګټلو لپاره مینه ضروري ده
* مینه په زړه کښي وي اوژړه دخبري کیدو په واسطه نشي لیدل کیداي .
* خلك له پادشاهي څخه لاس په سرکیداي شي خوله مینې څخه نه .
* په مینه کښي زیات قمتي شي وفاده څوك چي وفاونکړي نوتش آهونه اوفریادونه پاتي کیږي
* مینه بدن ته هیڅ ازارنه ورکوي ځکه ددي اړیکي له روح سره وي
* په دنیا کښي مینه هغه ازادي ده چي روح لورمقام ته رسوي .
* هغه مینه چي په خپلو اوښکو یې خپلو سترګو ته غسل ورکړي وي د همیشه لپاره ستره اوښایسته وي.
* مینه انسان ته دعظمت ،سپیڅلتوب ، انسان دوستي ،خوشحالي او امن سبق ورکوي .
* له مینې نه خالي زړه دهغه غارغوندي دي چي حیوان ورته دداخلیدو نه ویره کوي.
* مینه دهغه مذهب نوم دي چي انسان ته له انسان سره محبت ورښیي .
* ژوندي مینه ټولي تمناوي اوهیلي خواني ساتي.
* مینه هغه بیناییي ده چي ړانده یې هم پیداکوي .
* که له ژوند سره مینه کوي نو له خلکو سره مینه کوه .

دعاي نیم شب

غلام محمد «ناخوان»

اي قادرتوانا ،رحمي به حال مـاکن — فریادنیم شب رامقبول بارګاه کــن
رحمي به حال زار اقوام بي دفاع کـن — ازفیض حکم قرآن، روشن دیارمـاکن
این ملت پریشان، ازچنګ غم رهاکن
یارب چه حال وروزاست،درمیهن دلبران — شهرودیارصابان، رنګین به خون انسان
ازهرطرف بیاید،مرمي مثال باران — زیراکه درکمین است،آن سرګروه شیطان
طرح وپلان شومش، درزیرپاي ماکن
حق وطن به جاکرد ، هرفردپاك افغان — درراه دین احمد، بګذشــت ازسروجان
شیران بدست خالي، جنګیدباخیشان — تاقوج روس ګردیدازخاك مـا ګریزان
این کارمل خبیث هم ناکام وروسیاه کن
ازدست خانه جنګي، ملت به جان رسیده — طفلان وپیروبرنا ، درخاك وخون تپیده
داودوفغان مردم ، برکهکشان رسـیده — این بي عدالتي را ، چشم جهان ندیده
به عدل خودخدایا ، تودفع این بلاکن
دراین دیارهجرت، مارابده قناعــت — خوردوکلان مارا، ازلطف کن هــدایت
آرم شفیع به نزدت ، اي کبریا حبیبت — یك مردباشهامت ، بـــاانتخاب ملـت
یك خادم کلامت ،صدرورئیس ماکن
حاجت رواي عالم، اي ذات مشکل آسان — سوي درتوآیم،باهــردوچشم ګریان
ګویم به عذروزاري ، اي چاره سازخلقان — ازفیض علم ودانش بي بهره مانده «ناخوان»
داناي هرحقیقت ، قلبش تونیرضـاکن

شهیده !

احمدضیاء «حبیب یار»

چي شهید په دین ایمان دي هغه ته ئي
چي مین فقط په ځان دي هغه زه یم
چي یقین ئي په قرآن دي هغه ته ئي
چي خرڅ شوي په غیران دي هغه زه یم
چي غازي مردمیدان دي هغه ته ئي
چي په نوم تش پهلوان دي هغه زه یم
چي سالاردخپل کاروان دي هغه ته ئي
چي په زړه ناژوره روان دي هغه زه یم
چي کامیاب دامتحان دي هغه ته ئي
چي ناکام پاتي انسان دي هغه زه یم
چي مقام ئي عالیشان دي هغه ته ئي
چي رسوایه ټول جهان دي هغه زه یم
چي په جاجنت ودان دي هغه ته ئي
چي تري کوراوکلي وران دي هغه زه یم
چي یادشوي قهرمان دي هغه ته ئي
چي دخپل وروور په تاوان دي هغه زه یم
چي ضیاء ئي قدردان دي هغه ته ئي
چي دنیاباندي قربان دي هغه زه یم

شهادت

ارگان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

شمارهٔ مسلسل (۷۷۳) پنجشنبه (۲۵) حمل ۱۳۷۳ هـ ش

احكام دين خودرابياموزيم

استقبال قبله

درنمازهاروي به قبله آوردن فرض است، زيرا خداوند (ج) برپيامبرش (صلي الله عليه وآله وسلم) امركرد: «پس برگردان رويت رابجانب مسجد الحرام »

چون بنده يي راقبله معلوم نگرديد، مي بايدكه تحريٰ كندوبهرجهتي كه رايش قرارگيرد، نمازبگذارد. هرگاه درميانهٔ نماز، قبله برايش ثابت گردد، روي به قبله آردونمازرا تمام نمايد وقتي بدون تحريٰ نمازراتمام كردوپس ازآن، جهت قبله رايافت ، مي بايدكه نمازرا اعاده كند.

(استفاده ازمنابع فقهي)

فرمان الهي

آنانيكه دوست دارند زندگي دنيارا وآن رابرزندگي آخرت ترجيح ميدهند وبازميدارند (مردم را) ازراه خدا (دين) ودردين خداكجي وزيغ تلاش مي كنند، اين گروه درگمراهي دورازحق قراردارند . (ابراهيم - ۳)

ارشادنبوي

حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت مي كندپيامبرعليه السلام فرمود، پروردگارم مرابه نه چيزامرنموده است : درپنهان وآشكارازخدابترسم ، درحالت رضا وغضب ازعدل وانصاف كارگيرم، درحالت فقروآسودگي ازحداعتدال تجاوزنكنم، آنكه ازمن قطع روابط كندباأوروابط داشته باشم، آنكه مرا محروم كندبه اوعطاكنم ، آنكه برمن تجاوزكند اوراعفوكنم، خاموشي من غوروفكرباشد، نظرمن نظرعبرت باشد.گفتگوي من ذكرالهي باشدوبه نيكي امركنم وازبدي منع كنم . (مشكوة)

ايران دراعمار پالايشگاه نفت دركراچي باپاكستان كمك مينمايد

اسلام آباد - ۲

ايران پلان هايي رابراي اعمار يك تصفيه خانه نفت درنزديك شهركراچي پاكستان اعلان كرده، است وميگويد كه روي اعماريك پايپ لاين گاز براي صادرات گاز طبي ايران غورميكند . اينموضوع را علي اكبر ناطق نوري رئيس پارلمان ايران به دنبال مذاكرات دراسلام آباد دريك كنفرانس مطبوعاتي اعلان كرد.

وي گفت كه اين پالايشگاه نفت ظرفيت تصفيه نفت پاكستان را كه فعلاً روزانه يكصدوچهل هزاربيرل است ، دوچند خواهد ساخت .

رئيس پارلمان ايران گفت : هردوكشورامكانات عملي بودن احداث يك پايپ لاين گاز طبعي را مورد مطالعه قرارميدهند كه ذريعه اين پايپ لاين گاز طبعي ازذخاير ايران صادرميشود .

ايندوپروژه بادشده باهمكاري دوكشوراعمارخواهند شد.

په پيښوركي افغاني مظاهره چيانو له رباني اوحكمتيارڅخه داستعفى غوښتنه وكړه

دوري ۲٤ نيټه :

پرون دوري دمياشتي په دروېشتمه نيټه په پيښوركي دافغاني مهاجرينوله خوابوه مظاهره چي ددوه نيم دري سووكسانوپه شاوخواكي راټول شوي وو . دمهاجرينودعالي كمشنري دفترترڅنگ جوړه شوي وه، ويل كيږي چي دامظاهره دافغانستان دتفاهم اوملي يووالي دشورا په ابتكارراپللې شوي وه،مظاهره كوونكوجگړي پر خلاف اودملگرو ملتودسولې دهيئات په طرفداري شعارونه ترڅان سره وړل . دغه مظاهره هغه وخت دڅه بي نظمي ښكارشوه چي ځني ځوانانوچي اكثراً دښوونځيوشاگردان اويه اسلامي جهادي تنظيمونوپوري تړلي وو دتكبيرنعاري وهلي، پداسي حال كي چي ځيني نوروچي دتيرورژيمونوپلويان سيكولرستان و اوزېري بي هم نه درلودي، چك چكي وهلي .

خوپه مجموع كي تولودجگړي سره مخالفت كاوه اوله رباني اوحكمتيارڅخه يي په ټينگه وغوښتل چي استعفىٰ وكړي اوداچي اورېند ته غاړه كيږدي يوه بله خبره هم دپادولو وړده چي يوي ډلي ديي طرفه سيكولرحكومت غوښتنه كوله خوبلي ډلي ديي طرفه اسلامي حكومت شعاروركاوه .

دبويل خبرله مخي په همدي ورځ دافغان اطلاعاتي آژانس په دفتركي ځيني افغاني ښځوهم يوه غونډه درلوده چي دجگړي مخالفت يي كاوه .

جنگ در رواندا همچنان به شدت جريان دارد

گيگالي - ۲۳ حمل :

گزارش هاازگيگالي پايتخت رواندا حاكيست كه اعضاي حكومت مؤقت اين كشورفراركرده وشورشيان براي تصرف شهرآمادگي ميگيرند .

گزارش منابع خبري به نقل از شاهدان عيني حاكيست كه باتشديدجنگ كابينه نوزده عضوي كه چهارروزقبل پس ازقتل رئيس جمهور تشكيل شد واقع در چهل كيلومتري جنوب غرب گيگالي فرارنموده است .

خبرمي افزايدكه گلوله باري شديد درپايتخت واطراف آن جريان داردولي تاحال معلوم نيست كه درين جنگ هاكدام قوت هاشركت دارند.

شورشيان گفته اندكه آنهابرشهرحمله نميكنند تاخارجيان ازآنجاانتقال داده شوند همچنان آنهاهشدارداده كه همه خارجيان بايد درظرف بيست وچهارساعت ازشهرخارج ساخته شوند .

يك نطاق شورشيان گفته است كه شورشيان داخل پايتخت شده اندولي اين ادعاتاحال تائيد نشده است منابع خبري شمارتلفات راهزاران كشته ومجروح اعلان داشته اند.

وزراي تجارت اكثر كشورهاي جهان درمراكش تشكيل جلسه دادند

مراكش ۲۳ حمل :

وزراي تجارت اكثركشورهاي جهان درشهر مراكش المغرب تشكيل جلسه داده اند تا موافقتنامه جهاني تعرفه و تجارت رابه مرحله نهايي برسانند.

اين معاهده روز جمعه آينده امضا خواهد شد جلسه توسط شهزاده سيدي محمد وليعهد المغرب افتتاح شده به موجب اين موافقتنا مه پنجصد صفحه يي نظام جديد تجارتي درجهان به وجود خواهد آمد.

دريك گزارش گفته شده كه رفع موانع تعرفه هاي گمركي ، تجارت جهان رابه ميزان هفصدوپنجاه وپنج مليون دالر درسال افزايش خواهد داد.

براساس اين توافقتنامه كشورهاي سرمايه دارمنافع بيشتري را نصيب خواهند شد.

دفرانسي اوجرمني هيوادونوپربوسنيايي سرپيانو دهوايي دحملي ملاتړ كړيدي ۱

داحمله زموږ له خوښي پرته شويده . (يلتسين)

دبرطانيې صدراعظم جان ميجر ويلي : دناتو هوايي حمله دصربانو پر خلاف له وخت سره سم اوپرځاي كاردي.

ده وويل : دغه برغل وښودله چي دملگوملتونو دامنيت شورا دپريكړو دعملي كولو په لاركښي نړيواله ټولنه جدي ده دبويل خبر له مخي روسي واكمنو چي له سربانو سره تسلي اړيكي لري ويلي چي داحمله زموږ له خوښي پرته شويده له بل لوري دفرانسي اوآلمان دبهاندنيو چارو وزير انو هم ددغه حملي ملاتړكړي.

په لغمان كي دشهيد عجب گل دحوزي دمسولينو غونډه وشوه

لغمان :

دلغمان ولايت مركز مهترلام باباله ښارڅخه دترلاسه شوي خبرله مخي ويل كيږي تيره ورځ په دغه ښاركي دشهيدعجب گل دحوزي دمسئولينوڅوا يوه غونډه جوړه شوي وه .

دريوټ په اساس غونډه دسهارپه اوو بجودڅومباركوآياتونوپه تلاوت سره پيل شوه . په خبركي زياته شوي : پدغه غونډه كي په گن شميرمجاهدينوسربيره دلغمان ولايت مسئولينواومشرانوهم گډون كړي وو .

دغونډي برخوالوته دنوموړي حوزي ناظم محترم وروو سيديوسف هاشمي ، ارزښتناكه ويناوكړه اودوروانو حالاتوپه اړونديي معلومات وركړله.

دغونډي په پاي كي ددي حوزي نوي مسئولين پدي ډول برخوالوته ورويپيژندل شول.

١- سيديوسف هاشمي مسئول

٢- وروومحب الله مرستيال

٣- وروومطيع الله زاهد دفرهنگي چارومسئول

٤- وروور شفيق الله جواد مرستيال

٥- وروور عبدالرازق عابد دمالي امورومسئول

٦- وروورسميع الله سپار داطلاعاتو مسئول

٧- ورووڅجيب الله محبوب داطلاعاتو دمرستيال په توگه اعلان شول .

غونډه دغرمي په ١٢ بجوپاي ته ورسيد.

خبرتيا

دننگرهاررستورانت نه‌يوازي تاسوته ښه او مزه داره خواړه وړاندي كوي بلكه ستاسو دودونو، شيريني خوري اوميلمستياگانومراسم په ښه توگه مني اوهم ستاسو دمجالسو اوميټنگونولپاره ښه اوصفا سالون برابروي .

شكريه

له طرفه دننگرهاررستورانت (مينجر)

سيدجمال الدين افغاني چوك جلال آباد

اعلان مفقودي

غلام مرتضي ولدغلام دستگيرآهنگرساكن ولسوالي سرخرود ولايت ننگرهار ازروزجمعه مورخ ۲۸ حوت ۱۳۷۲ درشهرجلال آبادمفقودگرديده است .

برادران محترمي كه درمورد معلومات داشته باشندلطفاً درشهرجلال آباد دركوچه آهنگري نزديك گمرك به دوكان غلام دستگيرياذبن الله ويادرشهرپشاور به دستگاه خياطي كابل «دوكان عبدالقيوم » واقع تهكال پايان پلوسي رود اطلاع دهند.

اعلان ضروري

ليسه هاي تجربوي حضرت عثمان (رض) بمنظورارتقاي سطع دانش شاگردان ذكوروانات مهاجرازصنف اول تادوازدهم به ميتودجديدآمادهٔ تدريس اند.

ثبت نام هرروزبراي انات از۲ - ٤ وذكوراز٥ - ۷ بعدازظهر .

آدرس : بورد - ناصرباغ رود - گل آبادكالوني

تيلفون - (٤٥-۲۲)

(۱-۳)

اعلان

به سلسلهٔ حل سوالات علوم ساينسي اينك كتاب حل سوالات بيولوژي ازصنف (۷ - ۱۲) تازه ازچاپ برآمده است .

اين كتاب كه توسط برادر عبدالحفيظ حامدعزيزي برشته تحرير درآمده حاوي جواب ۱۲۰۰ سوال تشريحي ، انتخابي ، خانه خالي، وصحيح وغلط بوده كه شاگردان راهمه وقته خاصتاً براي امتحان كانكورآماده مي سازد وعلاقمندان مي توانندآنرا دربدل قيمت ثابت ۲۵ كلدار ازكتابخانه هاي آتي بدست آورند .

۱- كتابخانهٔ خراسان سرك دوم ناصرباغ رودپهلوي كوچهٔ ليسهٔ التقوي

۲- كتابخانهٔ خاوركوچهٔ مرغ فروشي شاهين تاون

۳- مركزفرهنگي اسلامي افغانستان درپايان پلوسي

نوت : حل سوالات كيميا ،فزيك ازصنف (۷ - ۱۲) نيزتحت چاپ مي باشد.

(۳-۳)

زيري

ټولو علماواوطالبانوته زيري وركول كيږي چي موږدوه معلوماتي ديوالي ښكلي پوسترونه چاپ كړيدي:

۱- دحضرت محمد(ص) پيژندنه دولادت څخه تروفاته پوري مكمل سيرت اوكارنامي

۲- شجرة نسب الرسل دحضرت آدم (ع) څخه ترحضرت محمد(ص) پوري دپيغمبرانونسب سلسله.شايقين ديوستي له لياري خپل ليكونه دپتوكالداروسره پدي آدرس راليږلي شي .

پاكستان پيښور پوست بكس نمبر ٤٠٥ محمدجمال (حكمت)

لاس په لاس آدرس : ششمشر - نصرت مينه وچ نهرپاڅ كرابكابل قرطاسيه فروشي دمحصلين‌مطالعوي كتابتون دمشرتابه غوا

اخبارڅوكوټ اونړۍ

به گزارش مقامات سازمان ملل نمايندگان گرجستان و ابخازيا كه هفتهٔ گذشته درمسكو توافقات آتش بس وعودت آوارگان را امضاكردند روزشنبه درژنيو بخاطر استقرار نيروي حايل ميان طرفين ، بمذاكره نشستند .

معاون وزير دفاع روسيه ونمايندهٔ سازمان ملل نيز درين مذاكرات حضورداشتند.

***

قراراست صدراعظم ماليزيا درراس يك هيئت متشكل ازمقامات عاليرتبهٔ دولتي وتجاران آنكشورازكمبوديا ولاوس ديدار نمايد . به گزارش رويتر اين سفر روز پنجشنبه آغازومدت پنج روزادامه خواهد داشت.

***

ژرونوسكي رهبر گروه ملي گراي روسيه درجلسهٔ شوراي اروپا روزدوشنبه ازكشورش خواست ، درعكس العمل به حملات طيارات ناتوبر مواضع صربها دربوسنيا پايگاهاي ناتو رابمباران نمايد. مقامات فرانسه كه ژرونوسكي اكنون درآنكشور بسرمي برد، به وي هشدارداده اندكه ازتكرارچنين جملات پرهيز كند.

***

دبوي سروي په أساس په نړۍ كښي ترټولو زيات خلك چي دستوني سرطان په ناروغۍ اخته دي دهند اوسيمونكي دي .

ددي ناروغۍ اصلي علت په هند كښي د سگرټ څښلو اوپان ژولو زياتوالي ښودل شويدي په همدي اساس په هندكښي لس مليونه خلك په سگرټ څښلو اوپان ژولو اخته دي .

***

دروسيي جنگي الوتكو داسرائيلو يوه تجارتي الوتكه چي له اجازي پرته دروسيي په فضايي حدودوكښي ننوتلې وه كوزيدوته مجبوره كړه .

دروسيي ددفاع وزارت پدي اړوند وويل : داسرائيلو دغه الوتكه چي دتل ابيب نه دجارجيا په لور روانه وه دروسيي دهوايي كنترول له اجازي پرته دروسيي حدودوته داخله شوي وه چي دتوري بحيري په سيمه كښي كوزه كړاي شوه .

***

ديوكراين ددفاع وزير روس ته اخطارووركړي : كه دروس اويوكراين ترمينځ دشوي موافقي په اساس روسيه يوكراين ته داتومي بمي تيل ورنكري نوددوي په له خپلي سيمي څخه داتومي وسلو دراټولولوكار بندكړي .

ديوكراين ددفاع وزير زياته كړه دروسي واكمنو په خپلو ژمنو وفاداره كړي .

تازه هاي علم وفن

دوكتورمانويل پاتارايو متخصص بيوشيمي اهل كولمبيا اخيراً دركنفرانسي درلندن بيان داشت : واكسيني كه وي براي مقابله باملاريا تهيه كرده است ،چهارسال ديگر بطورگسترده در دسترس همگان قرار خواهد گرفت .

دوكتورپاتارايو گفت كه اين واكسين ارزان وطرز توليد آن بسيار آسان است.

اين واكسين درسال ۱۹۸۷ تهيه شده‌واز آن هنگام تابه حال ، تحقيقاتي كه درموردآن درآمريكاي لاتين انجام گرفته ، نشانداده است كه استفاده از آن در۵۰ ٪ بزرگسالان نسبت به ملاريا مصؤنيت ايجادمي كند .

تاثيراين واكسين ازلحاظ ايجاد مصؤنيت دركودكان تاحدقابل ملاحظه اي بيشتر است و اينهم ثابت است كه ابتلاي كودكان به ملاريا دربسياري موارد برگ آنها مي انجامد. اخيراً واكسين ملاريا دركشورهاي تانزانيا وزامبيا در افريقا مورد آزمايش قرارگرفته و نتايج بدست آمده مثبت بوده است .

ضمناً اين واكسين تا بحال عوارض جنبي زيان آوري نداشته است.

روش تهيه واكسين ملاريا نسبت به اكثرواكسين هاي ديگر آسانتراست وبه همين دليل ارزانتر تمام مي شود . بطوريكه تهيه مقدارواكسين كه براي سه نوبت تزريق كافي است ، در حدوديك سوم يك دالر مخارج دارد.

عملكرد واكسين دوكتور پاتارايو به اين ترتيب است كه آن باتركيبات كيمياوي ماليكول هاي عمده اي انگل ملاريا براي داخل شدن به گلبول هاي سرخ خون بكارميرود، مصنوعاً تهيه شده است وبه بدن كمك مي كند تابراي تشخيص انگل ملاريا ومقابله با آن آماده باشد.

روش تهيه واكسين دوكتور پاتارايو درنشريه هاي صحي چاپ شده ومتخصصان شيمي جهان ميتوانند بامطالعه آن مطالب،واكسين يادشده راتهيه كنند. سازمان بهداشت جهاني درنظر دارد توليد وسيع واكسين ملاريا راباإستفاده ازامكانات كشور كولمبيا درسال ۱۹۹۸ آغازكند.

زړه وړونكي اوحيرانوونكي

دانساني وينې څښونكې ښځه ونيول شوه

دروسيې په يوه سيمه كي يوي ښځې دترافيكو دپوليسو ديوصاحب منصب وينه څښلې ده .

دليتارتاس دريوټ په اساس دغه ښځه هغه وخت ونيول شوه چي دترافيكو پوليس يي دجنسي روابطو په بهانه خپل كورته بوتلو اوهلته يي دهغه وينه وڅښله .

په ريوت كښي زياته شوي نوموړي ښځې دتحقيق په جريانكښي ويلي له ډيري مودي راهيسي زه دژوندیو انسانانو وينه څښم هغه وايي كه زه په يوه اونۍ كښي انساني وينه ونه څښم حالت مې ډيرخرابيږي اويا مجبوره كيږم چي خپله وينه وڅښم اودامرض ماته له هغه وخت نه پيداشوي كله چي زما لاس په چړي باندي غوڅ شو اوله زياته درده مي دخپل ټپي لاس وينه ترستوني تيره شوه ماته يي زيات خوند راكړ اوپدي ترتيب مي څه موده دانسان توده وينه څكله چي بالاخره داكارزمايښې عادت وگرځيد.

اعلان فاتحه

به اطلاع عموم برادران مجاهد، مهاجروانصاررسانيده مي شودكه مراسم فاتحه خواني والدهٔ مديرصاحب سيدرحمن قومندان فرقهٔ الفتح كه جنازهٔ مرحومه قبلاً درولايت لوگربه خاك سپرده شده روزجمعه تاريخ ۲٦ حمل ۱۳۷۳ دركمپ نصرت مينه درمسجد نعمان بن ثابت درجوار كلينيك شهيدداكترولي ناصري ازساعت هشت صبح الي دوازده قبل ازظهر برگزارمي شودودوستان مطلع باشند .

جواب نظرخواهي شهادت

«سياف»يادبوه مخې سمبول

دشهادت درندي جريدي محترمو كاركوونكو ته .

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته !

ستاسي دموفقيت اوكاميابۍ په هيله

غوارم دسياف دهغي كاذبي اويي بنياده وينا په هكله چي دروژي په ۲۹ نيټه يي دجلوزو په كمپ كي دحزب اسلامي دمبارز اومجاهد قيادت په اړوند چي اسلامي امت دهغه په مبارزي او اسلامي شخصيت افتخاركوي ،كړيده، په پوره بي طرفۍ دالله درضا په خاطر دخپل نظر څرگندونه وكړم .

داچي سياف ځان ته يواستاذ وايي اورهبري يي دنامريي سازشونو په واسطه پرمسلمانانو تحميل شويده ، دابيابوبيل داستان دي ، خوكه دي اللأدبو شي استاد هم واي نودداسي ماشرمانه عمل يي هيڅكله نه كاوه ځكه په نوره دونيا كي استاذان باعزته اودقدرورخلك وي ، مگرمتأسفانه چي سياف دټولي نړي داستاذانو اومسلمانانو حيثيت راټيټ كړ اودجهاد پت ، عزت اوافغانيت يي سپك كړ.

دسياف هغه ادعاچي گواكي دحزب اسلامي قيادت ناروادي ، غواړي پدي بي اساسه خبرودعوامو اذهان مغشوش اودحزب اسلامي مثل شوي قيادت وځي اوپدي توگه خپل بايللي شخصيت بيرته اعاده كړي، زه وايم چي كاذب شخصيتونه هيڅكله هم نه اعاده كيږي .

بلي : سياف داسي يو شخصيت دي چي دستيج په سرډيرڅر ترانيدي ،كميدي اومكاري صحني جوړولاي شي ، مگر په تيرو پنځلس كلونوكي ددي اماتور اوسرگند خورلي څيره ټولوپيژندلي ده . هغه ناروا اوناځوالي چي ده داسلام په جامه كي پرمسلمانانو كړي اوكوي يي دچاله ياده ندي وتلي .

دسياف دتوكارنامو څيني يوه بيلگه هم داوه چي كله دجلال اباد شورا غيني دمسعود دراوستوپه بهانه كابل ته ولاړ نو مسعود ته يي په لمړي ليدنه كي دغوړه مالي په خوله داسي وويل:

«ديدي كه يك يغماني برابربه صد لغماني »

كه ته چيرته جلال اباد ته ولاړي حتمي به وژل كيږي نوتاسي قضاوت وكړي چي استاد دڅومره ټيټ نظر خاوند دي . داسي استادان په آينده كي دصدراعظمي دعوه هم كړي .

دحزب اسلامي دقيادت په هكله بايد دومره ووايم چي دافغانستان په خلكو به دالله (ج) لوي رحم اومهرباني شوي وي چي دوروحكمتيار په شان امتحان شوي اسلامي شخصيت يي رهبري دي .

والسلام

كمين "لاروي " دپيښورله تهكال نه "

به ادارهٔ محترم روزنامهٔ شهادت .

چندي قبل به ارتباط سخنان بي مايه وسراسر چرند سياف كه بيچاره از لحاظ رواني شكست خورده وبه غريقي ميماند كه جهت نجات به هرخس وخاشاك دست مي اندازد سوالاتي رادر روزنامهٔ شهادت مطرح نموده بوديد قبل از آنكه بجواب سوالات مطروحه شما بپردازم بايد بگويم كه چيزيكه عيان است چي حاجت به بيان است اگركسي درمورد شخصيت برادرمجاهد حكمت يار صاحب سوالاتي دارد صرف به تبليغات رسانه هاي خبري غرب ودرراس آن امريكا توجه بفرمايند كه درمورد قايد جهاد چه نظردارند ! درينجا حكايت لقمان حكيم بياد آدم مي آيد كه شخصي نزد اوآمده وگفت كه فلان ابله ازشما تمجيد وتقديرميكرد لقمان حكيم بگريه شد وگفت: كه من نميدانم كه چه كاري ابلهانه انجام دادم كه مورد پسند اين جاهل آمده تادر آينده ازانجام دادن آن پرهيز كنيم .قرآن حكيم بصراحت بيان ميكند كه يهودونصارا ازشماراضي نميشوند تاوقتيكه شما به آئين ايشان نگرائيد بناءً درمورد حكمت يار بايد براي مسلمانان ومجاهدين وقتي سوال پيداشود كه تائيد يهود وغرب راحاصل كند.

آقاي سياف هنگامي چنين حرف هايرا به زبان مي آوردكه تمام نقشه هاوپلانهاي وي ازجانب رهبر مدبر ومجاهد حزب اسلامي نقش برآب شده وقبالهٔ ائتلاف حبل السراج از هم پاشيده واعلان جهاد سياف وشركاي جرمش عليه مجاهدين حزب اسلامي نكه سياه ديگريست كه چهره هاي آنها را كره تر ساخته واكنون ميخواهند اعمال ضدجهادي وضد اسلامي خويش راتوجيه نمايند. جناب سياف دربيانيه روز جمعه ۲۹ رمضان المبارك بعداز هرادعاي پوچ ومباتهي خود يك سوگند خورده وسوگند خوردن خود يكي ازعلامات منافق است.انگيزهٔ اساسي اظهارات سياف اين بوده كه حيثيت ازدست رفتهٔ خويش را دوباره اعاده نموده ومردم رافريب داده تاذهنيت عامه را عليه رهبر مجاهد حزب اسلامي برانگيزد وخودرايك شخص مصلح ودلسوز به اسلام جلوه دهد.

ولي تمام تلاش هاي ايشان نتيجهٔ معكوس داده وباعث رسوايي بيشتر خود آنها گرديده،رهبر حزب اسلامي برخلاف ادعاي حسودان درقلب هرمجاهد ومسلمان جاه دارد ويك شخص عالم،مجاهد،صابر،مدبروشجاع بوده كه چشم حسودان ،كج انديشان ومنافقين راكورساخته وبا وجود سنگ اندازي هاي استكبارجهاني ومنافقين مجاهد نابسوي هدف مقدس كه همانا تاسيس يك حكومت اسلامي درافغانستان است ، مردانه واروبدون هراس باتائيد ونصرت پروردگار به پيش مي رود.

شاهد

جنگ درگرازده

شهرگزارش داده اند ، ضمناً درمادريدپلتسن رئيس جمهورروسيه كه ازهسپانيه ديدن مي كنداززدوام حملات ناتوعليه مواضع صربها هشدارداده گفت: اين حملات صرف منازعه راشدت مي بخشد.

شهادت

بيانگرعقايدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان

صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان

مؤسس : انجنيرحكمتيار

ناشر : رياست ارشادوفرهنگ

تحت نظرهيئت تحرير

پست بكس : ۱۰۳٦ يونيورستي تاون پشاور

آدرس : جلال آباد چكتوري

حساب بانكي: ۸۵۲٦٤ دافغانستان‌بانك

تلفون : ۲۹۲٦